# مَثَلُ الْمُنَافِقِ، كَمَثَلِ الشَّاةِ الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ تَعِيرُ إِلَى هَذِهِ مَرَّةً وَإِلَى هَذِهِ مَرَّةً». «د منافق مثال د هغه پسه په شان دی چې د دوو رمو تر منځه ځي راځي، کله دې ته ورځي او کله هغې ته ( نه پوهیږي چې کومې سره یو ځای شي

ابن عمر - رضي الله عنهما- له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روایت کوي چې فرمايلي يې دي: «مَثَلُ الْمُنَافِقِ، كَمَثَلِ الشَّاةِ الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ تَعِيرُ إِلَى هَذِهِ مَرَّةً وَإِلَى هَذِهِ مَرَّةً». «د منافق مثال د هغه پسه په شان دی چې د دوو رمو تر منځه ځي راځي، کله دې ته ورځي او کله هغې ته ( نه پوهیږي چې کومې سره یو ځای شي».

[صحيح] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د منافق حال بیانوي او دا چې - منافق - لکه د هغه پسه په څېر دی چې زړه نازړه وي؛ نه پوهیږي چې د کومې رمې پسې شي، کله دې رمې پسې ځي او کله بلې پسې، نو دوی د ایمان او کفر تر منځه زړه نازړه دي، نو نه خو دوی په ظاهر او باطن کې له مؤمنانو سره دي او نه په ظاهر او باطن کې له کافرانو سره دي، بلکې په ښکاره له مؤمنانو سره دي او په باطن کې په شک او تردید کې دي، نو کله دوی - مؤمنانو - ته تمایل کوي، او ځینې وختونه - کافرانو - ته تمایل کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65019